مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۲۰/۰۷/۰۹

# نو دا څه رنګه تقدير دی؟

د لمر وړانګې لکه تيغ ډېې مې څيري

او لګيا يم، چلوم قالب د خښتو

دغه وخت زما د تاندې ځوانی دور دی

زه لګيا يمه په ختو

او قالب سره منګولې لګومه

د لمر وړانګې لکه تيغ ډېې مې څيري

او سور اور د لمر مې څغ څرمنه سېځي

زه لګيا يم چلوم قالب د خښتو

زما همځولي «هنيمون» کې او مېلو کې

زه لګيا يمه په ختو او قالب سره منګولې لګومه

که تقدير وي،

نو دا څرنګه تقدير دی؟

لمر يو لمر دی، بس پر ټولو باندې ښندي خپلې وړانګې

خو دا وړانګې

زما څرمن د تيز نشتر غوندې راڅيري

همدا لمر، هماغه وړانګې

زما همځولي پکې نوره سا هم اخلي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

نو دا ځرنګه تقدیر دی؟

او دا څه رنګه دي وړانګي؟

۲۰۲۰/۰۶/۰۱
هیدرسلیف
ډنمارک




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزي بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ